د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت

# پرمختیا
اوونیزه

۱۰۲ مه گڼه • پنجشنبه • د تله ۲۵مه • ۱۳۹۸



۸

# د کابل ولایت په سروبي ولسوالۍ کې د گبیون ډوله محافظتي دیوال د جوړولو چارې روانې دي



۳

## د هیواد په ۸ ولایتونو کې د کوچیانو لپاره د ۳۸.۵ میلیونه افغانیو په لگښت د ۱۹ پروژو کار روان دي



۱۰

## په غور کې د ۸۸.۵ میلیونه افغانیو په ارزښت یوه ترانسپورتي پروژه بشپړه شوه

# تیره اونۍ په ۵ ولایتونو کې د ۷ ښوونځیو جوړولو کار روان و

۲۵/ تله/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون پروګرام د اقرا پروژې تر سیوري لاندې په ۵ ولایتونو کې د ۷ ښوونځیو جوړولو کار روان دي.

دا ښوونځي د کابل ولایت په قره باغ، د بلخ په نهر شاهي، د ننګرهار په سرخرود، د بادغیس په ابکمري او د کندز په امام صاحب ولسوالیو کې جوړیږي چې ۱۲، ۱۰، ۸ یا ٦ ټولګي، تشنابونه، او د څښاک د اوبو څاګانې به ولري.

ددې پروژو په ترڅ کې زرګونه کاري ورځې رامنځ ته شوي چې په بشپړتیا سره به یې د نږدې ۲ زره کورنیو زده کوونکو ته د ښوونې او روزنې وړ چاپیریال رامنځ ته شي.











# د هیواد په ۸ ولایتونو کې د کوچیانو لپاره د ۳۸.۵ میلیونه افغانیو په لګښت د ۱۹ پروژو کار روان دی

۲٤/ تله/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د سیمیزو پروګرامونو د همغږۍ دفتر د کوچیانو لپاره د هیواد په ۸ ولایتونو کې د ۳۸.۵ میلیونه افغانیو په ارزښت ۱۹ پروژې پلې کوي چې مخ په بشپړیدو دي.

دا پروژې چې ۱۷ یې له ملي بودیجې او ۲ نورې یې د ایټالیا هیواد له خوا تمویلیږي په کاپیسا، جوزجان، خوست، زابل، کندهار، لوګر، ننګرهار او لغمان ولایتونو کې پلې کیږي چې د اوبه خور کانالونه، د اوبه خور د اوبو زیرمې او سولري پمپونه په کې راځي.

ددې پروژو په ترڅ کې ۱۵ زره او ۷۲۸ کاري ورځې رامنځ ته شوي او ۳۳ زره ۹۷۱ هیوادوال کوچیان به یې له ګټو برخمن شي.



# په سمنګان کې د څه باندې ۱۰ میلیونه افغانیو په ارزښت ۳۰ متره کانکریټي پل جوړ شو

۲٤/ تله/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د سیمیزو پروګرامونو د همغږۍ دفتر له خوا د سمنګان ولایت په ایبک ولسوالۍ کې د څه باندې ۱۰ میلیونه افغانیو په ارزښت ۳۰ متره اوږد کانکریټي پل جوړ شو.

ددې پروژې په ترڅ کې ۳۱۲۰ کاري ورځې رامنځ ته شوې وې او اوس به ترې ۳٤۰۰ سیمیز وګړي ګټه اخلي.

دا پل سربیره پر ترانسپورتي ګټه د سیمې له خلکو سره مرسته کوي چې خپل کرنیز تولیدات په لږ وخت کې د خرڅلاو بازارونو ته ورسوي.



# په ننګرهار کې د ۲.٤ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو رسونې د یوې شبکې جوړولو کار روان دی

۲۱/ تله/ ۱۳۹۸

د افغانستان د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون پروګرام تر سیوري لاندې د ننګرهار د دره نور ولسوالۍ د پنجو کلا کلي د پرمختیایي شورا له خوا د ۲.٤ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو رسونې د یوې شبکې کار ۸۵ سلنه مخکې تللی. دا شبکه د ۲۳۵۰۰ لیټرو اوبو د ځایولو وړتیا لري، د نلکو شمیر یې ۸ ته رسیږي او یوه ۷۵ متره ژوره څاه لري. ددې پروژې په ترڅ کې ۱۵ تنو فني او نافني کارګرو ته د کار زمینه برابره شوې او تر بشپړتیا وروسته به یې ۱۸۰ کورنۍ ترې ګټه اخلي.



# په کاپیسا کې د ٤.٨ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو د یوې زیرمې کار پیل شو


۲۱/ تله/ ۱۳۹۸

د کاپیسا ولایت د مرکز اړوند عاشقانو کلي کې د ٤.٨ میلیونه افغانیو په ارزښت د د اوبو رسونې د یوې سولري زیرمې او د هغې د احاطوي دیوال جوړولو کار پیل شو. ددې شبکې په بشپړتیا سره به ۳۰۰ کورنۍ د څښاک پاکو او صحي اوبو ته لاس رسی پیدا کړي.

# په زابل کې د ۸۳۱ زره افغانیو په ارزښت د اوبو رسونې یوه شبکه بشپړه شوه

۲۱/ تله/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د اوبو رسونې، اوبه خور او حفظ الصحې د ملي پروګرام له لوري د زابل د ښهر صفا ولسوالۍ په ګیدړ کاریز کلي کې د ۸۳۱ زره افغانیو په ارزښت د اوبو رسونې یوه شبکه جوړه او ګټې اخستنې ته وسپارل شوه. ددې شبکې په بشپړتیا سره ۱۷۰ کورنیو د څښاک پاکو او صحي اوبو ته لاسرسي پیدا کړ.





# په غور کې د ۱۹ میلیونه افغانیو په ارزښت ۱۷ پرمختیایي پروژې بشپړې شوې

۲۲/ تله/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون پروګرام د غور ولایت د لعل او سرجنګل ولسوالۍ په بیلو کلیو کې د ۱۹ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو رسونې او اوبه خور بیلابیلې ۱۷ پروژې بشپړې او ګټې اخستنې ته وسپارلې. د اوبو رسونو شبکې، د څښاک د اوبو ځاه ګانې ایستل، د کرنیزو ځمکو لپاره د اوبو زیرمې جوړول، او د اوبه خور کانالونه جوړول له پلیو شویو پروژو دي ددغو پروژو تر بشپړتیا وروسته به اوس ۱۶۵۶ کورنۍ تري ګټه اخلي.

# په زابل کې ۳ زره زده کوونکو ته د څښاک اوبه چمتو شوې

۲۲/ تله/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د اوبو رسونې، اوبه خور او حفظ الصحې ملي پروګرام د زابل په مرکز قلات کې د شیخ متي بابا د لیسې۳ زره زده کونکو ته د ۲ میلیونه افغانیو په ارزښت د څښاک پاکې اوبه چمتو کړې سربیره پر دې یې ۱۸ تشنابونه د ناپاکو اوبو څاه، او یو شمیر د لاسونو وینځلو ځایونه هم چمتو کړل.
ددې پروژې په بشپړتیا سره د څښاک د اوبو او حفظ الصحې په برخه کې د یادې شوې لیسې د زده کونو ستونزې تر ډیره هوارې شوې.





# د کابل ولایت په سروبي ولسوالۍ کې د ګبیون ډوله محافظتي دیوال د جوړولو چارې روانې دي

۱۳۹۸/تلې/۲۲

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د سیمه ییز پروګرام له لوري د کابل په سروبي ولسوالي کې د ګبیون ډوله محافظتي دیوال د جوړولو چارې نږدې ۳۰ سلنه مخ ته تللي دي.

پر دغې پروژې چې د جلالتمآب جمهور رییس په ځانګړې سپارښتنه په یاده ولسوالي کې د سیلابونو د زیان د مخنیوي په موخه د تطبیق په حال کې ده چې ۳۳٤ میلیونه افغانۍ لګښت پرې راځي او له ملي بودیجې تمویل شویده.

د دغې پروژې د تطبیق پر مهال شا او خوا سل زره کاري ورځې رامنځته او په بشپړیدو به یې د سیمې ۲٤ زره اوسیدونکي ترې ګټه پورته کړي.

د یادې پروژې په بشپړیدو به چې عملي کار یې په ۱۳۹۸ یم لمریز کال د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر پوهندوي مجیب الرحمن کریمي لخوا پیل شو، نه یواځې دا چې د سیلاب د لارې په شا او خوا کې پرتې۱۳۷٦هکتاره کرنیزې ځمکې او سلګونو کورونو ته د سیلاب د زیان د ور رسیدو مخنیوي به وکړي بلکې د سروبي د بریښنا د بند کاسې ته د سیلاب د خړې د ورتګ مخه به هم ونیسي.



# په خوست کې د ۱۷.۹ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبه خوړ یو سربند جوړ شو

۲۴/ تله/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د سیمیزو پروګرامونو د همغږۍ دفتر له خوا د خوست ولایت د مرکز په ماڼۍ کلي کې د ۱۷.۹ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبه خوړ یو سربند جوړ او ګټې اخستنې ته وسپارل شو.

ددې پروژې په ترځ کې ۳۱۵۵ کاري ورځې رامنځ ته شوې وې، او تر بشپړتیا وروسته یې ۲ زره سیمیز وګړي د دغه له ګټو برخمن شول.

باید ووایو چې ددې سربند په جوړولو سره زرګونه جریبه ځمکه د خړوبولو وړ وګرځیده.

# په لغمان کې د ٥،٤ میلیونه افغانیو په لګښت د ۳٤۰ متره استنادي دیوال د جوړولو هوکړه لیک لاسلیک شو

۱۳۹۸/تلې/۲۲

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د سیمه ییزو پروګرامونو د همغږۍ دفتر له لوري د لغمان ولایت د مهتر لام اړوند خیدرخانې په سیمه کې د ۳٤۰ متره استنادي دیوال هوکړه د یاد ولایت د کلیو بیارغونې او پراختیا رئیس امان الله میاخیل او د ځایي کلیوالي پرمختیایي شورا سره لاسلیک شو.

په دې استنادي دیوال ٥،٤ میلیونه افغانۍ لګښت کېږي، چې چارې به یې د شپږ میاشتو په موده کې بشپړې شي او زیاته اندزه کرینزه ځمکه او د اوسیدو کورونه به د سیلاب له زیان وژغوري.





# په غور کې د ۸۸.۵ میلیونه افغانیو په ارزښت یوه ترانسپورتي پروژه بشپړه شوه

۲٤/ تله/ ۱۳۹۸

د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د سیمیزو پروګرامو د همغږۍ دفتر له خوا د غور ولایت د لعل او سرجنګل ولسوالۍ په سفید ریګ، سنګ رحیم خواجه،قلعه نو، سردشت او ده پتاب کلیو کې د ۸۸.۵ میلیونه افغانیو په ارزښت یو سړک جوړ او ګټې اخستنې ته وسپارل شو. په دې ترڅ کې ۲۲ کیلومتره سړک جوړ او کریړ پرې واچول شو، ۱۱٦ دګاډو تیریدو پلچکونه ۱۰۳۷ متره استنادي دیوال د پروژې پام وړ برخې دي.

ددې سړک په جوړیدو د ٤۰ کلیو مسافرو همدا راز د غور- کابل مسافرو ته اسانتیا رامنځ ته شوه، د صد برګ کوتل مسیر له ۵۰ تر ٦۰ کیلومترو لنډ شو او د بامیان یکاولنګ ولسوالي له غور سره وتړل شوه.